PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

تباه دی هر غیبت ګر پېغور ورکوونکي. هغه چې مال یې راټول کړی او په شمار یې زیرمه کړی دی. ګمان کوي چې مال به یې له مرګ څخه ژغوري. نه ده داسې بلکې خامخا به په ماتوونکې کې وراچول شي. ته څه پوهېږی چې ماتوونکې څه دی؟ د الله بل کړی اور دی. چې په زړونو خیژي. او پر هغوی به سرپټې وي. د لویو او رابښکلو شوو ستنو په مینځ کې به یې لمبې وي. (سورة الهمزة)

درس حدیث

از حذیفه بن یمان رضی الله عنه روایت است که گفت: منافقت چیزی بود که در زمان پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم وجود داشت، ولی منافقت امروز کافر شدن بعد از مسلمان شدن است.

(صحیح البخاری)

شهادت   څلورم کال، ۴ مه ګڼه، پرله پسې ۱۵۵ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غویي ۱۳ مه   د۱۴۳۳ هـ ق د جمادی الثاني ۱۰ مه   د۲۰۱۲ م د مې ۲ مه

حزب اسلامی افغانستان به خاطر انتخابات ۲۰۱۴ کمیسونی را تعیین نمود

احمد شاه وحدت Ahmad Shah WAHDAT Mobile: 0700... ahmadshah.wahdat@yahoo.com

این کمیسیون وظیفه دارد با حلقات ولایتی حزب اسلامی افغانستان بحث و مشوره نمایند

شهادت:
حزب اسلامی افغانستان در جلسه شورای اجرائیه روز پنجشنبه مؤرخ ۷ ثور ۱۳۹۱ خویش کمیسونی را تحت ریاست دکتور محمد انور رئیس کمیته سیاسی حزب مؤظف نمود تا در رابطه با انتخابات ریاست جمهوری ۲۰۱۴ سروی همه جانبه انجام دهد.
این کمیسون وظیفه دارد با حلقات ولایتی حزب اسلامی بحث و سروی نماید، وی اینکه حزب اسلامی برای دوره آینده کاندید مستقل تقدیم نماید و یا با جهت های مطرح در کشور برای تهیه یک پکیج انتخاباتی مناسب که بتواند پس از خروج نیروهای بین المللی از افغانستان کشور را از بحران نجات دهد به تفاهم رسد.
سایر اعضای این کمیسیون هر یک محترم انجنیر محمد خان، محترم مولوی سرفراز، محترم سید رحمن واحدیار و محترم عبدالجبار شلگری می باشند.

تاجران افغان نباید سرمایه های شان را از کشور خارج کنند

کابل، رسانه ها:
وزیر اقتصاد افغانستان از تاجران و سرمایه داران در این کشور خواسته است که به هدف رشد و انکشاف اقتصادی این کشور سرمایه های خود را از افغانستان خارج نکنند.
عبدالهادی ارغندیوال که به روز سه شنبه در جمع از تجاران و متشبثین خصوصی در کابل حرف می زند از آنان هم چنان تقاضا کرد که بیشتر به کار های تولیدی رو آورند زیرا به گفته وی پس از سال ۲۰۱۴ میلادی تجارت رونق بیشتر نخواهد داشت.
در همین حال شماری از تاجران و سرمایه داران در افغانستان از حکومت این کشور می

بقیه در صفحه ۴

سه تن از عاملین شکنجه سحر گل به حبس محکوم شدند

کابل، رسانه ها:
محکمهء ابتدایی حوزهء دوم شهر کابل به روز سه شنبه سه تن از عاملان شکنجهء سحر گل را به زندان محکوم کرد.
محکمهء ابتدایی حوزهء دوم، هر یک از این سه تن را به ده سال زندان محکوم کرد.
محاکمهء این افراد بطور علنی و به اشتراک شماری از مسوولان وزارت امور زنان، برخی از مدافعان حقوق زن و خبرنگاران صورت گرفت.
قضاوتمل عبدالباسل بختیاری رییس هیات قضایی حکم محکمه را در مورد پدر، مادر و خواهر شوهر سحر گل این طور اعلام کرد.
"تو سیاه موی بنت علی احمد، و تو اسامی

بقیه در صفحه ۴

په ننګرهار کې د ثور اتمه ونمانځل شوه

عبدالله کامه وال

د ثور اتمه د مجاهدینو د سربښندنو او قربانیو پایله ده "استاد عبدالعلي"

دننګرهار ولایت په مرکز جلال اباد کې دثور اتمه دیو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې ونمانځل شوه.
یاده غونډه دحزب اسلامي په ولایتي دفتر کې جوړه شوی وه چې په سلګونو مجاهدینو، علماو کرامو، قومي مشرانو، د پوهنتونونو استادانو او محصلینو پکې برخه اخیستې وه.
غونډه سهار نهه بجې د همت الله تلوار په ویاندوی اودقاري صاحب مطیع الله په تلاوت پیل شوه. په سر کې دحزب اسلامي دولایتي دفتر مشر استاد عبدالعلي د غونډې ګډونوالو ته هرکلی ووېې او د ثور اتمه یې دمجاهدینو دسربښندنو او قربانیو پایله وګڼله او زیاته یې کړه کمونستانو چې کوم ظلمونه دیو لاسپوڅي حکومت دراوستو او واکمنی پرمهال کړي هغه زموږ دتاریخ یوه نه هیریدونکې توره او له وحشته ډکه برخه ده چې دظلم او بربریت کیسې به یې تر ډیره زموږ په مجاهد ولس کې ژوندۍ وی خو پرخلاف یې زموږ دمسلمان ملت تش لاسې

پاتې ۳ مخ

امریکا پر خپلو ځواکونو د افغان ځواکونو حملې نه افشا کوي

نړیوال، رسنی:
د اسوشیتید پریس خبري اژانس له یوه راپور سره سم په افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو له لوري د ناټو او امریکا پر ځواکونو او روزونکو تر هغه څه زیاتې حملې کېږي چې دوی یې افشا کوي.
د امریکا په مشری نړیوال ایتلاف معمولاً وایي چې د یوه افغان عسکر یا یوه تن له خوا چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو یونیفورم یې په تن و، پر امریکایي یا نورو بهرنیو ځواکونو برید شوی دی.
خو اسوشیتید پریس خبري اژانس ته څرګنده شوې چې د هغو پېښو راپور پټ ساتل کېږي چې د افغان عسکر په ډزو د ناټو یا امریکا عسکر ژوبلېږي یا یې له دې چې هدف ویشتلی شي خو حمله وکړي.

پاتې ۴ مخ

غیرت بهیر له رسنیو سره په مرکه کې



کابل، رسنی:
ولسمشر کرزي د روانې اوونۍ د شنبې په ورځ د سبا په نوم د ولسي جرګې له یوه پلاوي سره په کتنه کې وویل چې د حکمتیار له حزب اسلامي سره د ده د حکومت خبرې بریالۍ دي او دا لړۍ به دوام وکړي.
مهال خبري اژانس د ولسمشر کرزي دا خبره د سیاسي چارو له شنناند او د حزب اسلامي له یوه پخواني مقام وحید مژه او دغه راز کابل ته د حزب اسلامي د راغلي پلاوي له مشر غیرت بهیر سره شاربلې ده.
مهال خبري اژانس وایي:
ښاغلی وحید مژده وایي چې په دې اړه د حزب پلاوي هم فکر کاوه چې د امید ځای شته.
وحید مژده "په دې اړه ډاکټر غیرت ماته هم وویل چې یوڅه د امید ځای شته، ده وویل چې پخوا مونږ راتلو، او دا ځل دوی راغوښتي یوو، او راته ویلي یې دي چې ستاسو د طرحې په اړه جدي غور کوو."
ولې ښاغلی بهیر وایي چې خبرې یې تراوسه تر هغه بریده ندي رسېدلي چې رسنیو ته په ډاګه کړل شي خو زیاتوي چې د دوی د طرحې هر کلی شوی دی. دی وایي:
"اوس لا په داسې مرحله کې نه یو چې د

پاتې ۳ مخ

پاکې اوبه په افغانستان کې د یوه احتمالي بحران په توګه!

میوند

دریېم مخ

بار دیگر طلوع آفتاب در اسپانیه

هادی یحمد

صفحه دوم

ملي ائتلاف ولې د سولې مخالف دی؟!

محمد خلیل

د ملي ائتلاف مشران په افغانستان کې د سولې له روان بهیر سره کلک مخالفت کوي او پر دولت تور لګوي چې له تروریستانو سره د ائتلافي حکومت د جوړولو هڅې کوي.
دا ښاغلي او ددوی همغږي له مخالفینو سره د خبرو اترو مخالفت کوي خو د افغانستان جنګ ځپلو وګړو ته ددې خبرې په قانع کولو کې پاتې راغلي دي چې آیا د جګړې په تداوم کې افغانانو ته د آرام او هوسا ژوند ضمانت هم ورکولی شي او که نه؟ افغانان د تېرو یولسو کلو راهیسې د دولت او مخالفینو د جنګ په لمبو کې سوځېږي، د ژوند هره شیبه یې د امن په انتظار کې تېره شوه خو تر دې دمه یې د امن خوږه وږمه او خوږه فضأ په نصیب نه شوه، هره راتلونکې ورځ یې له پخوا ترخه، خوروونکې او بوګنوونکې ده، په مجموعي ډول د افغانانو ژوند له یو عالم کړاوونو سره مخامخ دی، دغه جنابان دې خپل ولس ته ځواب ورکړي چې هېوادوالو لپاره د ژوند په دې سختو شرایطو کې له سولې پرته نور د څه شي ضرورت دی؟ ! که جنګ جګړه واقعاً د افغانانو په ګټه وای نو بیا دهغې ګټې ولې تر سترګو نه شوې، د افغانانو په ژوند کې ولې اطمینان رانغې، په ښارونو، قریو، کلیو، لویو لارو او سړکونو کې ولې امنیت تأمین نه شو، ملي اردو او ملي پولیس ولې وژل کېږي، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې حکومتي واکمني ولې نه حاکمېږي، وژنې، تښتونې، ظلم او استبداد ولې نه کمېږي، هره میاشت په لسګونو تعداد امریکایي او ایساف ځواکونه ولې په بمي چاودنو او مخامخو جګړو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي؟ د ګاونډیو او نیمه ګاونډیو هېوادو لاسوهنې ولې نه کمېږي، د هېواد اقتصادي، امنیتي، تعلیمي، صحي، صنعتي اونورې چارې ولې پرمخ نه ځي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې د جنګ جګړې په منفي والی دلالت کوي. ...

پاتې دویم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

محلي پوليس باید له چا او څنګه جوړ شي؟

يو ځل بيا د محلي پوليسو يا اربکيانو د فعالولو خبره ګرمه شويده، د داخله وزارت لوړپوړي چارواکي په قريو او کليو کې د اربکيانو اهميت داسې ښکاره کوي چې ګويا د افغانستان بقا او ساتنه له دوی پرته ناشونې ده او د اربکيانو فعالول او منظمول د افغانستان د دفاع او بقا آخري چانس بولي.

په افغانستان کې د اربکيانو د فعالولو کار له نن نه څلور کاله وړاندې پيل شوی او د هېواد په ګڼو قريو او کليو کې ورته دندې هم سپارل شوي خو هر چاته په ډاګه ده چې په ګڼو ځايونو کې اربکيانو ددې پر ځای چې د خپلې خاورې د دفاع او خدمت مسؤوليت ترسره کړی برعکس د خپلو پر امنو ښاريانو په ځورولو لاس پورې کړې، ددې پر ځای چې د تخريب کارانو، غلو، ډاکوانو او مافياو مخه ونيسي پخپله يې پرې لاس پورې کړی او له هغوی سره يې لاسونه يو کړي او د خپلو جيبونو د ډکولو پرته يې ولس او خاورې ته هېڅ ګټه نه ده رسولې څکه خو ځايي اوسېدونکي همېشه له اربکيانو سرونه ټکوي او د خلع سلاح غوښتنې يې کړي دي.

اوس پوښتنه داده چې اربکيان ولې د ولس په معيار پوره نه خيژي؟ لاملونه يې څه دي زما په اند په محلي پوليسو کې هغه کسان جذب کېږي چې هغوی له وړاندې نه ښه شهرت نه لري د زياترو لاسونه د خلکو په وينو سره او په ګڼو جرائمو ککړ دي، د مثال په ډول زه د خپلې ولسوالی يو مثال وړاندې کوم، هلته هم د اربکيانو د جوړولو پروسه پيل شوې خو زما د معلوماتو مطابق د اربکيانو د قوماندانۍ لپاره دهغو عناصرو نومونه اخستل کېږي چې هغوی پخپل ولس کې نه ښه نوم لري او نه ښه شهرت، تقوی او ايمانداري يې په نشت حساب ده، ټول عمر يې په غلا، ډاکو، ظلم او ناروا کې تېر کړی دی، او اوس هم په ولس کې د بدمعاشانو په نوم شهرت لري، له هغوی سره چې کومه ډله ټپله ده هغوی هم له انساني عاطفی ترحم، اخلاق او همدردي څخه عاري دي، له لا ابالي توب او ناولتوب پرته يې بل کار نشته، د خپلې خاورې، عقيدې، فرهنګ او اسلاميت په مفهوم نه پوهېږي.

ځرګنده خبره ده چې کله داسې خلک په يوه سيمه کې حاکم او واکدار کړی شي هغوی څنګه کولې شي چې خپل مسؤوليت په سمه توګه ترسره کړي او د ولس په مسائلو کې له لاس وهلو څخه ډډه وکړي؟ هغه خلک چې په محلي پوليسو کې له جذب کېدو وړاندې په مرداريو کې ککړ وي د پوليس د يونيفورم له اغوستلو نه وروسته به ترېنه څنګه بې آزاره شيخان جوړ شي؟! په داسې حالت کې خوبه نور هم د جرائمو د ترسره کولو جرئت پيدا کړي بيا به د کور او کلي خلک دهغه په وړاندې لاس په نامه ولاړ وي او هر تېری په سر سترګو مني.

د اربکيانو په باب دوه خبرې د ذکر وړ دي:

۱- پر محلي پوليسو د اربکي نوم صدق نه کوي؛ څکه اربکي يو قومي جوړښت دی او محلي پوليس حکومتي.

۲- محلي پوليس د جنرال پتريوس امريکايي هغه طرح ده چې په عراق کې يې تجربه کړې، حال دا چې د عراق او پاکستان شرايط سره ډېر تفاوت کوي؛ څکه خو دا طرح په افغانستان کې ناکامه ده.

دا سمه ده چې د هېواد او ولس ساتنه د حکومت تر ټولو مهمه دنده ده او دا کار هله ترسره کېدای شي چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې پوليس او اردو ځای پر ځای کړی شي، خو دا هم ډېره مهمه ده چې دا ساتونکي بايد په هغو اوصافو برابر وي چې د هېواد او ولس د ساتنې لپاره حتمي او ضروري دي. له دې واقعيت نه بايد سترګې پټې نه کړو چې د بهرنيو عناصرو له ضرر څخه د داخلي عناصرو ضرر او شر د هېواد بقا او استحکام ته زيات تاوان رسوي، بهرني اشرار او بدنيت لروونکي دښمنان هله د يو هېواد د بقا او استحکام له خطر سره مخ کولې شي چې پخپله په هېواد کې دننه د بداخلاقو، بدمعاشانو او ظالمانو واکداري قائمه شي او د خپلو ناوړو کړنو له کبله د هېواد بنسټونه ولړځوي، نو څکه ددې خبرې ضرورت دی چې د محلي پوليسو په جوړولو کې له بشپړ دقت کار واخستل شي هغه عناصر دې شامل نه کړی شي چې ښه ماضي او ښه شهرت نه لري، په خلکو کې منفور دي، بلکې هغه ځوانان دې شامل کړی شي چې ايمانداره او ديانت داره وي، د خلکو په وينو يې لاسونه ککړ نه وي، په غلا، ډاکو، رشوت او نورو جرائمو روږدی نه وي، سازشي فکر او خيال ونه لري، د قانون احترام کوونکی او محافظين وي، اسلامي او افغاني غيرت ولري، د پيسو په مقابل کې نه خرڅېږي، ثابت قدمه او د متين عزم خاوندان وي، او په اړه يې له ځايي اوسېدونکو څخه پټ معلومات ترلاسه کړی شي، دهغوی ټولې کړنې وڅارل شي او هر سرکښ ته عبرتناک سزا ورکړی شي. که داخله وزارت دغه شرائط په نظر کې نه نيسي او هسې د محلي پوليسو په نوم محلي ډاکوان او بداخلاقه عناصر مسلح کوي نو ددې معنا او مطلب به دا وي چې پخپل لاس په خپل هېواد کې بدامني راولي او هغه وګړي چې له خپل هېواد او ولس سره مينه لري پخپل لاس د دښمنانو په خولې کې اچوي.

بار دیگر طلوع آفتاب در اسپانیه

نوشته از: هادی یحمد ترجمه از: احمد راشد رسولی

اسپانیه روزی مهد و گهواره تمدن اسلامی در اروپا به شمار می رفت واز آنجا بود که نور علم و دانش به سراسر اروپای فرورفته در جهل و بربریت پرتو افشانی نموده و گسترش یافت. اسپانیه آنگونه که میدانیم ؛ با بازوان پرتوان فاتحین و مجاهدان نامدار اسلام چون موسی بن نصیر، طارق بن زیاد، سمح بن مالک خولانی و عبد الرحمن غافقی و دلیر مردان دیگر فتح شده بود؛ و مسلمانان چند قرن بر آن حکومت کردند و در آنجا اساس مدنیت، ترقی و پیشرفت را پایه گذاری نموده که بعدها به تمام منطقه توسعه یافت. دانشگاهها ، مراکز علمی و فرهنگی ، تأسیسات عام المنفعه زیادی را در آنجا بنا کردند که از دیگر مناطق اروپا تشنه گان به علم و معرفت غرض تحصیل به دانشگاه های اسلامی روی آورده و در آنجا علم و دانش را توسط اساتید مسلمان می آموختند.

سرانجام این سرزمینی که قلبهای هر مسلمان از آن داغدار است و به یادش تأسف و حسرت میخورد ؛ از دست مسلمانها بیرون شد. عامل اصلی آن را همه می دانیم که اختلاف درونی مسلمانها و بیشتر تضاد های قومی آنها بود که بر اساس آن حکومتهای قومی و گروهی در هر گوشه و کنار اسپانیه شکل گرفت و باعث گشت که این سرزمین واحد که با اهدای خون هزاران مجاهد نامور و سرداران رشید اسلام آزاد شده بود و از هر پارچه از آن بوی خونهای عطر آگین شهدا به مشام می رسید؛ توسط حاکمان ظالم و هوس باز پارچه پارچه گردد و یکی پی دیگری بدست کسانی تصرف شود که در آینده بزرگترین جنایت را در تاریخ در حق مسلمانها مرتکب شوند. بلی اسپانیه سقوط کرد و سپس دادگاه های تفتیش شکل گرفت و بیش از ۳۰۰هزار تن از مسلمانها به جرم دیانت و اعتقاد شان زنده به آتش سوزانیده شدند. و عده زیاد دیگر از آنجا کوچانیده شده و برخی دیگر هم به زور سرنیزه به اعتناق به مسیحیت مجبور ساخته شدند.

مساجد آنجا همه یا آن که منهدم شد و یا به کلیسا و طویله چارپایان تبدیل گردید و تعداد اندکی هم به شکل موزیم ها در آمد که تا حال باقی مانده است.

اما بعد از گذشت این تاریخ غم انگیز خبری را در اسلام اولاین خواندم که در آن از ازدیاد آمار مسلمانها و مساجد در اسپانیه خبر داده بود. بنده خواستم ترجمه آن را خدمت خوانندگان عزیز تقدیم کنم.

"در این اواخر شمار مساجد و نمازگزاران در اسپانیه و به ویژه شهرک فالنسیا افزایش چشم گیری یافته است.

وزیر عدلیه اسپانیه تأکید نموده است که در شهرک فالنسیا تا اکنون ۶۵ مسجد ثبت و راجستر شده و یا در جریان ثبت شدن قرار دارد.

برخی تحلیل گران علت افزایش مساجد در اسپانیه را در ازدیاد روز افزون آمار مسلمانها در آن کشور میدانند. زیرا بنابر آمارگیری سال ۲۰۰۸ م تعداد مسلمانها در آن به یک ملیون و ۵۰۰ هزار نفر می رسد.

چهار مسجد بزرگ در شهرک فالنسیا از شهرت به سزایی برخوردار می باشند که هر یک از آنها از دیگری تفوق و برتری دارد. یکی از آن مساجد به نام "مسجد الکبیر" یاد میشود که از ناحیه هندسی و معماری از دیگر مساجد برجسته گی دارد و سازمانی به نام " مرکز فرهنگی اسلامی "بر آن نظارت دارد. مسجد دومی به نام " مسجد بویرتو " یاد می گردد که "سازمان جمعیت های اسلامی "آن را اداره میکند. و سومی هم مسجدی است که ساختمان کوچک داشته و در ناحیه ای به نام " رصافه " واقع است که تعداد زیادی از مسلمانها در آنجا زندگی میکنند. و چهارم هم مسجدی می باشد که تازه بنا یافته است و از فعال ترین مساجد در سطح تمام اسپانیه به شمار میرود، اما این مسجد جدید التأسیس ازنظر خدمات اجتماعی و رضاکارانه به اندازه پیشرفت داشته که در تصور نمی گنجد. به همین اساس این مسجد توانست توجه شهرداری فالنسیا را به خود جلب کند و از سوی شهرداری آنجا مورد تقدیر واحترام قرار گیرد و تحایف و هدایای را از آن خود کند.

اداره مسجد فالنسیا نقش بسیار مهمی را در بنا و تأسیس مساجد زیاد دیگر در آن شهرک بازی کرده است. این مسجد از سوی یکی از سازمانهای اسلامی بنام " مرکز فرهنگی اسلامی" نظارت میشود که خود این مرکز بخشی از سازمان بزرگتر دیگری است که به نام " سازمان اسلامی برای گفتگو و همزیستی در اسپانیه "مسمی میباشد.

۴۰۰ مسجد دیگر در سراسر اسپانیه:

کشور اسپانیه از جمله کشور های انگشت شماراروپایی است که به دین مقدس اسلام به حیث دین رسمی معترف است. به همین اساس شمار مساجد در آنجا به بیشتر از ۴۰۰ مسجد می رسد. آمار رسمی بدان اشاره دارد که حدود ۹۰ هزار تن مسلمان تنها در شهرک فالنسیا زندگی میکنند و مساجد زیادهم در آن شهرک از سوی مسلمانها بنا یافت است.

در گذشته نه چندان دور در سراسر اسپانیه دو سازمان اسلامی بزرگ وجود داشت که هردو از اقلیت اسلامی آنکشور نمایندگی می نمودند. یکی آن به نام "سازمان جمعیت های اسلامی در اسپانیه "(UCIDE) یاد می گردید، به گفته یکی از نمایندگان آن سازمان، که ۶۰ جمعیت دیگر در آن عضویت دارد.

اما برخی دیگر به این باور اند که نمایندگی آن سازمان از ۶۰ جمعیت دیگر واقعیت نداشته و فقط جنبه تبلیغاتی دارد.

سازمان دومی بنام سازمان " فری" است که از ۵۰ تا حدود ۶۰ سازمان کوچک دیگر در زیر آن فعالیت دارد.

ولی برخی از مسلمانها در آن کشور این دو سازمان را بخاطر کوتاهی در قسمت حقوق مسلمانها متهم میدارند، برای آنکه اختلاف این دو سازمان بر سر اداره امور مسلمانان در آن کشور باعث گشت؛ تا حقوق مسلمانها به هدر رود و دولت قوانینی را که از حقوق آنان حمایت و پاسداری مینمود؛ به حالت تعلیق در آورده و به اجرا نگذارد.

مسلمانها در اسپانیه تقصیر و کوتاهی این دو سازمان را اگر چه زمان هم بگذرد فراموش نمی کنند زیرا آندو نتوانستند که از حقوق آنان در آنکشور دفاع نمابند.

عملکرد آن دو سازمان عده دیگر را واداشت تا سر از نو دست به تشکیل و تأسیس سازمانهایی جدید زده و بتوانند از مسلمانها به صورت درست و واقعی نمایندگی کنند و همچنان سرلوحه کار شان دفاع و پاسداری از حقوق و جایگاه مسلمانها باشد و بکوشند قوانینی را که در گذشته به تعلیق در آمده بود ؛ دوباره به مرحله اجرا و تطبیق بگذارند.

امروز اکثریت مسلمانها را در اسپانیه مراکشی تبارها تشکیل میدهند که بنابر آمار گیری رسمی تعداد شان به ۷۰۰ هزار تن تخمین شده است.

به تعقیب آنها الجزائری ها، سنگالیها و پاکستانی ها قرار دارند که شمارهریک از آنان تا حدود ۵۰ هزارتن می رسد و در سه منطقه بزرگ چون برشلونه، مادرید و فالنسیا سکونت دارند".

(با تشکر از سایت اصلاح آنلاین)

ملي ائتلاف ولې د سولې مخالف دی؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... څکه خو افغانان او نړیوال دواړه دې نتيجې ته رسېدلي دي چې د افغانستان لانجه پوځي حل نه لري بايد د سولې له لارې حل او فصل شي، په افغانستان کې د زور منطق په قطعي ډول ناکام دی او د سولې پرته بل هېڅ لاره ورته پاتې نه ده، طبعي خبره ده کله چې په يو ځای کې زور ناکام شي هلته بيا سوله پخپله اهميت پيدا کوي او دهمغې له لارې د تشې د ډکولو کوښښ کېږي.

د ملي ائتلاف مشران او دهغوی همغږي دې دا واقعيت ومني چې په افغانستان کې نور د جنګ منطق خپل اثر له لاسه ورکړی دی ولس له جنګ نه ستړی او ترېنه کرکه لري نه غواړي نور د جګړې توري لوخړې دهغوی په سر سوری وکړي، جنګ هغوی ته له مرګ، تباهي، وير، غم، پريشانی، لوږې، تندې، کډوالۍ، ناامنۍ، بې سوادۍ او بې وزلی پرته بل څه نه دي ورکړي، روانه جګړه چې څومره اوږدېږي ددې بداثرات د افغانانو راتلونکی نسل نور هم له بدانجام سره لاس او ګريوان کوي. افغانان نه غواړي خپل راتلونکي نسل هم بدبخت کړي، د جنګ په لمبو کې وريت او د ژوندانه په چارو کې د نورو هېواد ګدايي او سوال ته کېني، نو څکه ترېنه د وتلو يواځينی لاره سوله ده نه ښايي ورسره مخالفت وشي، څکه چې د انسان اصلي هدف سوله يېز ژوند دی نه جنګ او جګړه يېز ژوند.

پاکې اوبه په افغانستان کې د يوه احتمالي بحران په توګه!

میوند

افغانستان په اوسنیو شرایطو سره له دې چې له اقتصادي، سیاسي او امنیتي بحرانونو سره مخ دی، له یو شمېر نورو طبیعي ناورینونو او بحرانونو سره هم مخ دی، لکه وچکالي، خراب محیط، د اوبو نشتوالی.

مونږ پخوا هم په دې اړه بحث کړی و او خپل مسوولیت مو سرته رسولی و، اما د شدید ضرورت له مخې دې ته اړ شوو، چې یو وار بیا پر دغه موضوع تاکید وکړو او تر خپلې وسې د دې احتمالي بحران د پېښېدو پر وړاندې د مبارزې لپاره اړوند مسوولین متوجه کړو، تر څو تر یوه حده د یاد ناورین پر وړاندې سالمه مبارزه او یا یې تر یوه حده مخنیوی وشي. په هر حال دا چې اوبه د ژوندانه لومړنی اړتیا ده او له اوبو پرته ژوند ناممکن دی، خو ورسره د ځمکې پر سره هره ابادي او هره چاره له اوبو سره تړلې ده، په هغو ځایونو کې چې اوبه نشته، هلته ژوند او ابادي هم نشته.

په دې وروستیو وختونو کې داسې متعددې اندېښنې او تشویشونه را پیدا شوي، چې د افغانستان او په ځانګړې توګه د کابل ښار چې نږدې اووه ملیونه نفوس په کې ژوند کوي له کمېدو سره مخ دي او مخ پر کښته روانې دي، همداشان دا هم ویل کېږي چې د کابل ښار تر ځمکې لاندې اوبه هم د چټلوالي وروستني حد ته رسېدلې دي. سره له دې چې افغانستان د پاکو اوبو د درلودلو له امله یو غني هېواد دی، خو بیا هم د پاکو او صحي اوبو د کمښت له سختې ستونزې سره مخ دی. همدا اوس په د کابل ښار په یو څو محدودو ناحیو کې صحي اوبه پیدا کېږي او هغه هم په ډېره کمه اندازه، یانې د یوه نسبتاً لوی فامیل ګوزاره هم پرې سمه نه کېږي او نورې ډېرې ناحیې له صحي اوبو څخه برخمنې نه دي، همداشان تر کابل اخوا د هېواد په نورو ښارونو کې خو بېخي له سره صحي اوبو ته لاسرسی په اسانی سره هیڅ امکان نه لري !

په عمومي توګه باید ووایو چې غرني سیمې او د ذکر شویو سیمو اوبه تر یوې اندازې صحیتوب ته ورنږدې دي، خو په هغو سیمو کې چې په هواره کې موقعیت لري او ډېر نفوس په کې ژوند کوي، اوبه یې له یو لړ چلنجو سره مخ شوې دي. له هغې جملې نه یو هم کابل ښار دی، چې تر ځمکې لاندې اوبه یې د

چټلوالي په خوا ځي او د څېړونکو په اند ورځ په ورځ یې د چټلوالي اندازه په بره ځي او دا د میلیونونو کسانو پر وړاندې هغه ستر ناوین بولي، چې تر جګړې یې هم زیانونه خطرناک ښودل کېږي. موده مخکې یو شمېر څمکپوهانو په دې اړه په یوه غونډه کې څرګنده کړه چې په کابل کې په سلو کې له شپېتو نه تر اویاوو فیصدو پورې اوبه ککړې دي.

یو شمېر ځمکپوهانو هم خبرداری ورکړی، که په کابل کې تر ځمکې لاندې اوبو د خوندي کولو لپاره بېړني ګامونه پورته نه شي، نو په تر راتلونکو څو کلونو کې به د دې ښار خلک له یو بل لوی ناورین سره مخامخ شي.

د کابل پوهنتون د ځمکپوهنې د پوهنځي رییس محمد نعیم موده وړاندې ویلي وو، چې په راتلونکو څو کلونو کې به افغانستان په ځانګړې ډول کابل د پاکو اوبو له کمښت او د ککړ چاپېریال له امله کړېږي. "دېرش کاله افغانان جنګ وځپل او وروسته له دې دا ویلای شم، چې په راتلونکي کې به افغان له د پاکو اوبو له کمښت، د ککړې هوا او د خوړو له ککړتیا سره لاس او ګرېوان وي. همداشان اوسط عمر په اروپا کې له اویا کالو پورته دی، په جاپان کې له اتیا کلونو، خو په افغانستان کې پخوا د عمر اوسط ۴۵ کاله و او اوس ۴۲،۸ کلونو ته راټیټ شوی چې دوه اعشاریه دوه کاله نور هم راښکته شوی دی، څکه چاپیریال مناسب نه دی. په نورو ځایونو کې اوسط عمر مخ پر لوړېدو دی خو زموږ په ځای کې مخ پر کمېدو."

په کابل کې د اوبو د کمښت په اړه دا اندېښنې په داسې حال کې وړاندې کېږي، چې د هېواد پلازمېنه د چاپیریال له پلوه هم له جدي ستونزو سره مخ ده او د نړۍ یو له لسو ډېرو ککړو ښارونو څخه شمېرل کېږي.

په کابل کې د امریکا سفارت هم څو وارې خبرداری ورکړی، چې کابل د ککړ چاپېریال له امله له ډېرو ننګونو سره مخ دی.

په همدې حال کې یو شمېر کتونکي په دې باور دي، چې رسنی د چاپېریال ساتنې او له ځمکې څخه د ښې ګټې اخیستنې په برخه کې مهم رول لري، خو د چاپېریال ساتنې اداره وایي، چې دوی دومره بودیجه په واک کې نه لري، چې په دې برخه کې عامو خلکو ته د رسنیو له لارې تبلیغ وکړي. په هر صورت کې په عمومي ډول دا لویه ستونزه تر غور لاندې ونیسو نو ویلای شو، چې تر ځمکې لاندې اوبه او د چاپېریال چټلوالی هغه خطرناکې ستونزې دي، چې له مله یې په دې هېواد کې، په تېره بیا په کابل کې ژوند ناممکنوي او که موضوع دقیقه وڅېړل شي، نو ترجګړې زیات کسان د مرګ کندې ته ور ټېل وهي، نو د دې لپاره په لومړي قدم کې باید دولت ژر تر ژره لاس په کار شي او په دې برخه کې ټولې بېړنۍ او ممکنه هڅې پیل کړي، همداشان په دویم قدم کې رسنی باید په دې برخه کې د تبلیغ له لارې خلک له یادو ستونزو خبر کړي او پر خطرناکو عواقبو یې پوه کړي. رسنی باید په دې برخه کې د پیسو مسئله مهمه ونه بولي، دا د هېواد او خلکو لپاره ستر خدمت دی او په دې برخه کې باید ټولې چاپي، تصویري او صوتي رسنی خپله ملي رسالت اداء کړي او په درېیم قدم کې خلک په د پورتنیو ستونزو په برخه کې هڅه وکړي او تر خپله وسه او توانه یې په مخنیوي کې خپله ونډه اداء کړي او خپل ژوند، خپل راتلونکی او خپل هېواد له دې ډول احتمالي بحران څخه وژغوري.

په ننګرهار کې د ثور اتمه ...

مبارزه او ددې مبارزې بریا او په پایله کې دنړۍ نورو محکومو ولسونو ته ازادی بیا هغه زرین او له افتخاره ډک تاریخ دی چې راتلونکي نسلونه به پرې ویاړي ددې غونډې بل ویناوال دننګرهار داسلامي پوهنتون استاد اوداسلامي نهضت پیاوړي مجاهد استاد عبدالهادي عاصم وه، استاد عاصم دثور د اتمې بریا د هغه وخت دځوانو محصلینو لاسته راوړنه وګڼله چې دخپل ملت په بیداری اودکمونیزم پر وړاندې دمبارزې په لاره کې نه ستړي کیدونکې هلې ځلې وکړې او له نړۍ یې دکمونیزم دپوچې فلسفې تغر ټول کړ، استاد عاصم دنن ورځې ځوانان او په ځانګړې توګه محصلین په روانو حساسو شرایطو کې خپلو مسوولیتونو ته متوجع کړه او له هر ډول مفاسدو پرخلاف مبارزه او مجاهده یې د مسلمانو ځوانانو ایماني او اسلامي دنده وګڼله.

ددې غونډې بل ویناوال دننګرهار ولایت دښووني او روزني تخنیکي مرستیال انجنیر سمیع الله نصرت وه چې دشهیدانو دکورنیو اومعیوبینو په نماینده ګۍ یې خبرې وکړې انجنیر سمیع الله نصرت د افغان جهاد پر ارزښتونو رڼا واچوله او د ثور اتمه یې دشهیدانو اومعیوبینو دقربانیو نتیجه وګڼله اوله چارواکو یې غوښتنه وکړه چې دشهیدانو له ارمانونو سره جفا ونکړي اوله معیو بینو سره چې دهېواد په ازادۍ کې دبدن غړي له لاسه ورکړي باید دمعیوب په سترګه ونه کتل شي بلکې دهیواد د ازادۍ اتلان وګڼل شي په یاده غونډه کې دننګرهار پوهنتون علمي مرستیال دکتور دل اقا وقار هم ارزښتناکه وینا وکړه اوپه هیواد کې یې دسولې په راوستو کې ددولت دهڅو ستاینه وکړه اوپه ځانګړې توګه یې دولسمشر دلومړي مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم او دبلخ دوالي عطا محمد نور د هغه څرګندولو هرکلی وکړ چې مخالفینوسره له روغې جوړې اوپه نظام کې دشریکوپرته دې ملک کې سوله نه شي راتلای

له استادوقار وروسته دچپرهار ولسوالی دترانې ټیم په خپلو خوږو اوزړه راښکونکو اوازونو یوه ښکلې ترانه و ویله چې دګډونوالو له لورې د تکبیر په نعرو بدرګه شوه او دغونډې دګډونوالو له لورې په نغدي انعامونو اودولایتي دفتر له لورې په ستاینلیک ونازول شول دیادونې وړه ده چې دنوموړې غونډې ددریځ سمبالونکي همت الله تلوار ته هم د غوره ویاند وی ستاینلیک د ولایتي دفتر دمشر استاد عبدالعلي لخواور کړشو پدې غونډه کې دمحصلنو په نمایده ګۍ عتیق الله حبیبي وینا وکړه دبادې غونډې وروستی ویناوال په ننګرهارولایت کې د حزب اسلامي دسمیز دفتر مرستیال سرمعلم حمزه و استاد حمزه په ننګرهار ولایت کې دحزب اسلامي پر فعالیتونو رڼا واچوله اودحزب اسلامي ورونو ته یې په ولسوالیو اوناحیو کې دحزب اسلامي په انسجام او لا غو ړیدا ټینګار وکړ

دا پرتمینه غونډه دغرمې د دولس بجې په ننګرهار ولایت کې دحزب اسلامي دعلماو دشورا ریس مولوي فضل الرحیم په دعایه پای ته ورسیده .

د حزب اسلامي طرحه د ټولو ...

خبرو اترو جزئیات مطبوعاتو ته ووایو، خو په کابل کې زمونږ مذاکرات کامیاب وو، مونږ خپله طرحه په ډېر صراحت سره ټولو ته واوروله، داسې مالومېده چې زمونږ طرحه ټولو ته جذابه وه، زمونږ د طرحې امتیاز دادی چې مونږ پکې د حزب اسلامي لپاره هیڅ نه دي غوښتي، بلکې یوه جامع طرحه ده، چې د افغانستان د بحران حل وړاندې کوي. "

خو په دغې طرحې کې چې د افغانستان د شخړې د سیاسي اوارې لپاره حزب اسلامي وړاندې کړې ده یو شرط دادی چې ټول بهرني ځواکونه دې له افغانستانه ووځي، نو ایا په دې اړه کوم جوړ جاړی شوی دی چې ددې خبرو پرمختګ ته هیله مند و اوسو، په دې اړه ښاغلی مژده وایي:

"خو دا وار دوی له ځینو نورو کسانو سره چې هم خبرې کړې دي او زما په خیال له امریکایانو سره چې دوی خبرې کړې وې، له هغې نه په دې خوشال وو، چې دوی په افغانستان کې دایمي اډې نه غواړي او اوږدمهاله شتون هم نه غواړي، یوازې یو اطمینان که ورته ورکړل شي، چې بیا هغه تېرحالت په افغانستان کې نه راځي، دوی به له افغانستانه ووځي. "

په کابل کې د حزب اسلامي او افغان دولت ترمنځ د خبرو په مهال داسې ګونګوسې هم وې چې ولس مشر کرزی غواړي له حزب اسلامي سره د را روانو ټاکنو په اړه خبرې وکړي، خو ښاغلی بهیر دا نه مني او وایي:

"نه دا بېخي واقیعت نه لري، زمونږ د مذاکراتو اجنډا هماغه د حزب اسلامي طرحه وه، خو دومره وه چې دا ځل دولت زمونږ طرحه جدي نیولې وه،ددې طرحې د بحث لپاره یې یوه کومېټه وړاندیز کړې وه، چې مونږ ورته د تفاهم او مذاکراتو کومېټه وایو، د انتخاباتو مسله وړه مسله ده، دا باید د یوه جامع تفاهم برخه وي، ترڅو پورې چې اساسي مسایل حل شوي نه وي د انتخاباتو ازادي، او شفافیت دومره لویې خبرې نه دي چې خبرې دې پرې وشي. "

په دې اړه یوه بله خبره داده چې د متحدې جبهې په نامه د پخوانیو جنګي ډلو نوې ډلګۍ په دې وروستیو کې په بیابیا دا اندېښنه څرګندوي چې ولس مشر کرزی غواړي د دولت له وسله والو مخالفانوسره ایتلاف وکړي، او کله وایي چې غواړي چې په هېواد کې وسله والو مخالفانو ته لار اواره کوي چې حکومت جوړ کړي، په دې اړه چې ایا حزب اسلامي له دولت سره په کوم ایتلاف باندې خبرې کړې دي که نه؟ ښاغلی بهیر وایي:

"زه فکر کوم دابې ځایه تشویشونه دي، هسې اذهان مشوش کوي، مونږ له هیچا سره ایتلافي حکومت نه جوړوو، مونږ فکر کوو پخواني ایتلافونه کافي وو، مونږ له یوې ډلې سره ملګري کېدل د ستونزې د اوارې لار نه بولو. "

خو ښاغلی وحید مژده وایي چې د حزب اسلامي مخالفین هم یوه خوله نه دي، خو دده په فکر د حزب اسلامي پلاوی له خپلو پخوانیو مخالفینوسره له خبرو هم خوشاله و.

" زه نه پوهېږم ددوی او د نورو په خبرو کې چې څه خبرې شوي دي، په هغې ګې دوی څه اطمنان ترلاسه کړی و، خو ددوی له تګ نه وروسته د بلخ والي استاد عطا هم وویل چې مونږ دحزب اسلامي دراتګ طرفتدار یو، خو دحزب اسلامي د مخالفینو تر منځ هم هم غړي نشته دی، یو یوه خبره کوي بل بله، دلته یوه خبره داسې شته چې مجاهدین یو شي، د حکمتیار په اړه دلته یوه اندېښنه شته خو هغوی ته ویل شوي دي چې حکمتیار پخپله ټاکنو ته نه ودرېږي او که کاندید دروي نو غیرت بهیر یا به قطب الدین هلال دروي، نو دې خبرې ددوی مخالفین هم امیدواره کړي دي چې که حزب اسلامي هم ټاکنو کې برخه واخلي نو دوی ته ګټه رسوي. "

داسې هم ویل کېږي چې د سولې د عالي شورا د مشر په توګه د صلاح الدین رباني په ټاکنه کې هم حزب اسلامي پوښتل شوی او هغوی دده ټاکنه خوښه کړې ده، دا خبره ښاغلی بهیر هم مني:

"له مونږه نظر غوښتل شوی، او د ده د ټاکنې په اړه زمونږ نظر مثبت و "

ښاغلی مژده بیا وایي چې د حزب اسلامي پلاوي له صلاح الدین رباني سره کتلي او دده له ټاکل کېدو خوشاله وو.

"کورئ دوی چې دا ځل هم راغلي وو، له صلاح الدین رباني سره یې کتلي وو، هغه ته یې مبارکي ورکړې وه او ویل یې چې دا ډېره ښه خبره ده چې یوداسې کس د سولې د عالي شورا مشر ټاکل شوی چې له دوی سره په جنګ کې ښکېل نه و، او ویل یې چې مونږ له صلاح الدین رباني سره وکتل هغه هم ډېرې ښې خبرې وکړې"

ډېری شنونکي فکر کوي چې حزب اسلامي له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د سمدستي وتلو خبره نه کوي بلکې د یوه داسې مهالوېش غوښتونکي دي، چې له مخې یې له دې هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو یوه ټاکلې نېټه په ډاګه شي، او دا هغه ټکی دی چې کېدای شي هوکړه پرې وشي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

ملاعمر او اسامه یو شان مفکوره درلوده

بریتانوي ډیلي تیلیګراف ورځپاڼه لیکي، د هغو معلوماتو له مخې چې تېر کال په ایبټ اباد کې د بن لادن له وژل کېدو وروسته د هغه په کور کې له دوسیو لاس ته راغلي، ښکاري چې القاعده شبکې او طالبانو له نژدې اړیکې لرلې.
ګومان کېږي، چې په دغو دوسیو کې د هغو خبرو تفصیل درج شوی چې د طالبانو د مشر ملاعمر، د القاعده د مشراسامه بن لادن او د هغه د ځای ناستي ایمن الظواهري ترمنځ ترسره شوي دي.
د ورځپاڼې په وینا په واشنګټن کې یوه امریکايي چارواکي، چې دغه اسناد یې لیدلي د خپل نوم د نه افشاکولو په شرط دې ورځپاڼې ته ویلي چې له دغو تماسونو څرګندېږي، چې د القاعده او د طالبانو د مشرانو ترمنځ د مفکورې زښت زیات یووالی شته.
خو ورځپاڼه د مستقلو منابعو له خوا د دغې ادعا په تاییدولو کې پاتې راغلې ده.
ډیلي ټیلیګراف وړاندې لیکي، که دغه اسناد موثق وي، هغه به په افغانستان کې د سولې پرهڅو یو کلک ګذار وي ځکه د القاعده له فعالانو سره د طالبانو د همکارۍ په اړه راپورته شویو اندیښنو دغه هڅې ټکنۍ کړې دي.
ګارډین:
بریتانوي ګارډین ورځپاڼه هم په دې اړه په یوه مطلب کې لیکي، ملاعمر او اسامه بن لادن یو شان مفکوره او ذهنیت درلود.
د ګارډین په وینا د القاعده له مشرانو سره

د ملاعمر د نږدې همکارۍ په اړه هغه دلایل او اسناد به چې دې ورځپاڼې خپاره کړي، هغه کسان مایوس کړي چې په افغانستان کې سولې ته هیله من دي.
ګارډین لیکي، له القاعده سره د اړیکو شلول له طالبانو د سولې د خبرو یو لومړنی شرط دی.
د طالبانو د متوسطې کچې قومندانانو د وژلو یا نیولو لپاره د امریکا او د ناټو پر پالیسیو منتقدین داسې استدلال کوي چې القاعده او طالبان اساسا مختلف اهداف اواجنداوې تعقیبوي.
د دوی ځینو یې ان ویلي چې د القاعده د مشربن لادن له وژلو وروسته اوس د طالبانو په سیاسي دریځ کې د ښکاره بدلون احتمال زیات دی، خو د ورځپاڼې په وینا دغه مسله اوس یواځې یوه هیله ده.
ګارډین لیکي، هغه اسناد چې د بن لادن له وژلو وروسته د هغه له کوره لاس ته راغلي یواځې د هغه ترمرګ څو اونۍ مخکې د ملاعمر، بن لادن او د هغه د مفکوروي لارښود ایمن الظواهري ترمنځ له درې اړخیزو خبرو څخه پرده پورته کوي.
ورځپاڼه زیاتوي، د بن لادن له وژل کېدو یو کال تیرېږي، خو ملاعمر او ایمن الظواهري تراوسه ژوندي دي او یوې سرچینې ویلي چې د دې هیڅ دلیل نشته چې ملاعمر یا ایمن الظواهري به په خپلو مفکورو کې بدلون راوستی وي چې دا مسئله په خپله ډېرې پوښتنې راپورته کوي.

افغانستان او هند په خپل منځ کې استخباراتي مالومات شریکوي

کابل، رسنۍ:
په کابل او د افغانستان په درو نورو ښارونو کې د طالبانو له وروستیو هم مهالو حملو وروسته افغانستان او هند غواړي چې په خپل منځ کې استخباراتي مالومات شریک کړي.
هندي چارواکو ویل، مخکې تر دې چې روانه اوونۍ د افغانستان او هند د بهرنیو چارو وزیران ایس ایم کریشنا او زلمی رسول سره ووینې دواړو هیوادونو پرېکړه وکړه چې په خپل منځ کې استخباراتي مالومات د لیکونو(مکتوب) له لارې نه بلکې په فوري ډول شریک کاندي.
د اپریل په پنځلسمه وسله والو طالبانو په کابل او د افغانستان په درو نورو ښارونو لکه جلال اباد، ګردېز او پل علم کې همږغي عملیات وکړل. دوی د بریتانیا اوجرمني سفارتونه وویشتل خو د هند د سفارت لور ته یې ډزې ونه کړې.
د ټایمز اف انډیا ورځپاڼې د راپور له مخې یوه هندي چارواکي ویل: "موږ پر یوه نوي میکانیزم کار کوو او سر له اوسه استخباراتي مالومات د معمول په شان د لیکونو له لارې نه بلکې په لا چټک ډول تبادله کوو. "
دغه چارواکي، چې ټایمز اف انډیا ورځپاڼې یې نوم نه دی اخیستی، همداراز وویل: "په کابل کې زموږ سفیر ته د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي کریشنا ویلي چې له افغان چارواکو سره مالومات په فوري ډول شریک کړي او د غمیزو د مخنیوي لپاره اقدامات وڅاري. کریشنا به پر دې مسلې د افغانستان له بانډنیو چارو وزیر سره هم هغه مهال وږغېږي چې دواړه خواوې پر امنیتي چارو خبرې کوي. "
په کابل کې د هند سفارت د مارچ په نوُلسمه نېټه د افغان دولت د وسله والو مخالفانو له لوري پر دولتي تاسیساتو د حملې په باب خبرداری ورکړی و.

تاجران افغان نباید سرمایه های ...

خواهند که به مشکلات آنان رسیده گی نموده و زمینه سرمایه گذاری را برای شان مساعد بسازد.
وزیر اقتصاد افغانستان می گوید که در سال ۲۰۱۴ میلادی وضعیت جدید اقتصادی در افغانستان به میان خواهد آمد و به گفته وی حکومت و تجاران و سرمایه داران افغان باید از همین حالا تلاش های بیشتر را برای رشد و انکشاف اقتصاد این کشور در سال های پس از ۲۰۱۴ میلادی به خرچ بدهند.
عبدالهادی ارغندیوال به روز سه شنبه در نشستی در جمع از تجاران و سرمایه داران در کابل گفت، تاجران باید رسالت خود درک کرده و به سرمایه گذاری های شان جهت پیشرفت اقتصادی، ایجاد شغل و کار های تولیدی در افغانستان ادامه بدهند:
"تجاران ما از تولید به تجارت رجوع کنند به خاطریکه پس از این تجارت شاید آنقدر پر رواتق نباشد.
آنان به تولید رو آورند تا کشور ما آزاد باقی بماند. شرم و ننگین خواهد بود و ملت افغانستان هرگز ما و شما را نخواهد بخشید که سرمایه های خود را در مرحله حساس افغانستان خارج کنیم و در دوبی و سایر جا ها سرمایه گذاری نماییم. "
وزیر اقتصاد افغانستان علاوه کرد که اگر تاجران و سرمایه داران افغان سرمایه های خود را در زمینه رشد پایدار اقتصاد این کشور به کار نبندند، دست افغانستان برای کمک به سوی جامعه جهانی هم چنان دراز خواهد بود.
در همین حال تاجران و متشبثین خصوصی در افغانستان می خواهند که حکومت افغانستان باید مشکلات آنان را حل کند و فرصت های بیشتر سرمایه گذاری را در این کشور فراهم نماید.

د امریکا پوځي چارواکي پر خپلو ...

د دې اژانس په وینا دا ډول حملې د امریکا په مشری د نړیوال ایتلاف او د هغه د افغان همکارانو ترمنځ د بې اعتمادۍ اندازه ښیي.
امریکا او د دغه هیواد پوځي شریکان له یو بل سره له نژدې کار کوي چې د ۲۰۱۴ کال تر پای ته رسېدو مخکې د افغانستان د امنیتي چارو مسوولیتونه افغان ځواکونو ته وسپاري.
په وروستیو ورځو کې یوه افغان عسکر پر یو شمېر امریکايي پوځیانو ډزې وکړې خو هیڅ عسکر یې ونه ویشتلی شو. د دې پېښې په اړه نړیوالو ځواکونو رسنیو ته هیڅ مالومات ورنه کړل. خو اسوشیټید پریس خبري اژانس له دې پېښې د یوه امریکايي مامور له لوري خبر شو. دغه امریکايي مامور نه غوښتل چې نوم یې واخیستل شي.
اسوشیټیډ پریس خبري اژانس وایي چې ایساف هم د کندهار ولایت د تېرې اوونۍ د پېښې په اړه هیڅ ونه ویل چې په ترڅ کې یې دوو افغان پولیسو پر امریکايي عسکرو ډزې وکړې او دوه تنه یې ټپیان کړل.
د دې پېښې مالومات له افغان مقاماتو او په واشنګټن کې له امریکایي مامورینو ترلاسه شول.
دا خبري اژانس وایي، یوازې د تېرې اوونۍ د چهارشنبې په ورځ په یوه حمله کې د امریکا د خاص ځواک یو عسکر پکې ووژل شو او یو بل ټپي شو.
حمله کوونکی د افغانستان د کومانډو ځواک غړی و چې د نورو امریکايي عسکرو په ډزو ووژل شو.

سه تن از عاملین شکنجه ...

امان الله ولد اسماعیل و تو ماه خورد مشهور به گل شاه بنت امان الله متهمین قضیه مجروحیت و اقدام به قتل سحر گل و خشونت علیه زن طبق ماده ۳۹۶ قانون جزا با در نظر داشت ماده ۲۹ قانون مذکور به مدت ده ده سال حبس تنفیذی محکوم به مجازات نمودیم. "
در همین حال محکمه غلام سخی شوهر و دورمک برادر شوهر سحر گل را در غیاب آنها نیز مجرم شناخته و حکم نمود تا تحت تعقیب عدلی قرار گیرند.
گفته می شود که این افراد تا اکنون باز داشت نگردیده اند.
بعد از اعلان حکم قاضی، افراد متهم اتهامات علیه شان را بی اساس خوانده و حکم محکمه را رد نمودند:
" ما قبول نداریم ظلم است بالای ما، اگر این کار را کرده باشیم خدا و قران مرا از بین ببرد ما قبول نداریم این کار زور است درست است که سحر گل نام واسطه دارد. "
سحر گل حدود هفت ماه پیش از چنگ شکنجه خانواده شوهرش به وسیله افراد پولیس نجات و به کابل انتقال داده شد.
به گفته، پولیس، در این مدت مو ها و ناخن های سحر گل از بدنش بیرون شده و پوست اش با انبر کنده شده است.
سحر گل که در جریان این محکمه حضور داشت و وضعیت روحی و روانی اش نسبت به گذشته بهبود یافته بود بعد از شنیدن حکم قاضی به خبرنگاران گفت:
"می خواهم که مجازات شوند می خواهم ناخن های شان را بکشند، اعدام شان نمایند با سیخ داغ شان نمایند من می خواهم که طلاق بگیرم. "
ادامه، خشونت با زنان در افغانستان از نگرانی های عمده، نهاد های مدافع حقوق زن به شمار می رود.
به باور برخی از منتقدان، با وجود اینکه حکومت افغانستان می گوید، جلو گیری از خشونت با زنان یکی از اولویت های کاری اش را تشکیل می دهد، اما تلاش های حکومت در این بخش مثمر واقع نشده اند.

نبیل: طالبانیکه خواهان صلح بودند، در پاکستان کشته شده اند

کابل، رسانه ها:
اداره امنیت ملی افغانستان تایید کرده است که در این اواخر برخی از قوماندان های طالبان که حاضر به پیوستن در پروسه صلح افغانستان بوده اند، به قتل رسیده اند.
پس از تایید کشته شدن قوماندان طالبان، رییس امنیت ملی افغانستان از طالبان خواست که خود را از اسارت پاکستان رها کنند و گفتگو های صلح را با حکومت افغانستان به صورت مستقیم آغاز نمایند.
رحمت الله نبیل رییس امنیت ملی افغانستان به روز سه شنبه به جلسه عمومی مشرانوجرگه افغانستان خواسته شده بود تا پیرامون حملات گروهای اخیر شورشیان در شهر کابل به سوالات سناتوران جواب ارایه نماید.
آقای نبیل تایید کرد که یک تعداد از قوماندان های طالبان که حاضر به مذاکره صلح با حکومت افغانستان بودند، به قتل رسیده اند.
وی در مورد چگونگی قتل این افراد معلومات بیشتر ارایه نکرد، اما تاکید کرد که افغان های دیگر نباید قربانی این کار نشوند.
آقای نبیل افزود:
"ملا اسماعیل همراه با ۲۵ تن دیگر، یاسر و ملا عبیدالله که قبلاً کشته شده بود، این افراد بخاطری گرفتار شدند، زمانیکه روانه، میدان هوایی بودند و میخواستند در مورد صلح در افغانستان صحبت کنند که من دیگر جنگ نمی کنم، صلح می کنم، تمام اطلاعاتیکه موجود است کشته شد. "
به اساس معلومات مسوولین امنیتی افغان، تمامی این قوماندان های طالبان در مناطق کویته پاکستان به قتل رسیده اند.
همچنان منابع امنیتی افغان گفته اند که شاید دست اداره استخباراتی پاکستان در قتل قوماندان های طالبان دخیل باشد.
گزارش های منتشر شده است که این قوماندان های طالبان توسط اداره استخباراتی پاکستان به خاطر کشته شده اند که آنها قصد داشتند تا رهبر گروه طالبان رابه قتل برسانند.
اما رییس امنیت ملی افغانستان در این مورد جزیات ارایه نکرد.
همچنان در گزارش ها آمده است که در بین کشته شده گان طالبان شهید خیل والی نام نهاد طالبان در ولایت لغمان و برادر قاری احمدالله رییس استخبارات ریژیم طالبان نیز شامل می باشند.
طالبان کشته شدن قوماندان های این گروه را رد می کنند و این موضوع را یک جنگ تبلیغاتی می دانند اما این گروه کشته شدن استاد یاسر فرد کلیدی طالبان را در مربوطات شهر پشاور پاکستان تایید می کنند.
بیش از این نیز برخی از مقام های حکومت افغانستان خبر داده بودند که طالبانی که به خاطر انجام مذاکرات صلح با حکومت افغانستان در تماس شده اند، توسط پاکستان به قتل رسیده اند.
رییس اداره امینت ملی افغانستان می گوید که تمامی مشکلات امنیتی در افغانستان توسط همسایه های این کشور ایجاد می شود و تا زمانی که جامعه جهانی مراکز شورشیان را در آن طرف مرز از بین نبرد، جنگ در افغانستان ادامه خواهد داشت:
"بالای حافظ گل بهادر، نذیر، حکیم الله مسعود، ولی الله، طارق، منگل باغ، فقیر محمد، فضل الله و همه، آنها صدا می کنم، این ها را در خاک شان دشمنان اصلی شان آماده می کند که به افغانستان بیایند، اولاد های شان را به این طرف به خاطر فعالیت های تروریستی می فرستند تا در خاک شان قرارگاه های تروریزم ایجاد شود. "
قتل قوماندان های طالبان توسط پاکستان در حالی مطرح می شود که رییس جمهور افغانستان چندی قبل از مقام های پاکستان خواست تا زمینه گفتگوی صلح را میان طالبان و حکومت افغانستان مساعد نماید.
ایالات متحده امریکا و جامعه جهانی نیز نقش پاکستان را در تامین صلح در افغانستان مهم خوانده اند.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو نه مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com